مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

بارکوال میاخیل

۲۰۲۲/۱۱/۱۹

دایرې

لاروي پرانیستې د متو په زور
بندې زرګونه او لکونه لارې
کړل یې هوار په زور د عقل مزدور
د تورتمونو ګړنګونه، لارې
ورباندې راغلل سپلابونه غرونه
ده ورته جوړ کړل تدبیرونه غرونه
د لوړې تندې توفانو ته وو مخ
زور ته یې هیڅ وو قیامتونه غرونه
کړلې یې خلاصې د شعور په ګوتو
د کایینانو د بوخڅې غوټې هم
کړې یې تسخیر د آفتونو بلا
خلاصې یې کړې د زندګۍ غوټې هم
دي را وهلي یې پېړۍ مزلونه
سمندرونه یې تر پښو لاندې دي
دي یې رام کړي ټول وحشي حیوانان
او اسمانونه یې تر پښو لاندې دي
شو تر سپوږمۍ او ستورو تېر لاروی
خو لا تېر شوی تر بګارو* نه دی
لا ورته تم دي نالیدلي خدایان
اوښتی لا پر پټو لارو نه دی
چرته ولاړ ورته بوتان د تاریخ
او ترېنه غواړي چې یې برم ومني
چرته زړه بنده کوټه د رواج
غواړي هر څه یې ولاړ سم ومني
په ظاهر نه ویني بل خنډ د سفر
محسوسوي ترلې پښې لاروی
نیلي د فکر ته یې لومې پرتې
وړي نالیدلې زولنې لاروی
د لمر کاله ته یې شول شَل ګامونه
را ستون شو بیرته د خوبونو پر لار

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سر په سجده دی اوس هغو څلیو ته
چې یې دي جوړ د باورونو پر لار.

بارکوال میاخېل

---

*بګاره: دایره



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ